# پرپکه

پژهندوی عبدالقیوم کریم

۱۳۹۴ لمریز کال

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پـرېـکړه

(د ۲۰۰۵ کال د جاپان د ان اچ کې د نړیوالې جایزې ګټونکې)

**لیکوال:**
پوهندوی ډاکټر عبدالقیوم کریم

**۱۳۹۴ ل کال**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# كتاب پېژندنه:


| | |
|---|---|
| د كتاب نوم: | پرېكړه |
| لـيـكـوال: | پوهندوی ډاكتر عبدالقيوم كريم |
| خـپـرنـدی: | د افغانستان ملي تحريك، فرهنګي څانګه |
| وېبپـاڼـه: | www.melitahrik.com |
| كمپوزګر: | عبدالصبور كريم |
| ډيـزايـنګر: | ضياء ساپی |
| پښتی ډيزاين: | فياض حميد |
| چـاپشمېـر: | ۱۰۰۰ ټوكه |
| چـاپـكـال: | ۱۳۹۴ ل كال/ ۲۰۱۵م |

د تحريك د خپرونو لړ: (۵۲)


يادونه: د چاپ حقوق له ملي تحريک سره خوندي دي او د كتاب د محتوا مسوليت ليكوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

د هیواد د ماشومانو د ښوونې او روزنې د ډګر

لارویانو ته چې په هیواد کې د علم مشال د دوی

له برکته تل روښانه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریك په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریك له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور وداني ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یاد د ښتونه

هرکله چې د ډرامه لیکنې سره د خپلې مینې او علاقې په باب فکر کوم نو په پنځوسمه لسیزه کې د افغانستان د راډیو د جمعې د شپو پښتو او دري راډیویي ډرامې او د اوونۍ پرله پسې راډیویي داستانونه مې په ذهن کې انګازې جوړوي.

په نوموړې لسیزه کې زه د ننګرهار په عالي لیسه کې د لیسې د دورې په زده کړو بوخت وم. زه په ټولګی کې لومړی وم او هره شپه به مې تر نیمو شپو درس وایه او په څنګ کې مې ورسره راډیو هم اوریده. د راډیو افغانستان نوموړو ډرامو او داستانونو او نورو خپرونو راسره مرسته کوله چې د شپې تر دولسو بجو پورې خپله مطالعه جاري وساتم. له همدې زمانې څخه مې د ډرامو له اوریدو او بیا له ډرامه لیکنې سره مې مینه پیدا شوه. د شکسپیر د اوتلو او هملټ او د کالیداس د شکونتلا ډرامه مې ولوستله او د ننګرهار د لیسې د ښارندویانو (Scouts) په لیکو کې د لنډو تمثیلي ټوټو په لیکلو سره مې ډرامه لیکنه پیل کړ. د پنځوسمې لسیزې په دویمه نیمایي کې مې په پښتو ژبه شعر هم لیکل چې ځینې یې د ننګرهار په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځپاڼه کې خپاره شول. ښه مې په یاد دي چې پوره یوولس ټوټې شعرونه مې لیکلي و چې د خپلې شعري استعداد د روزنې حوصله مې له لاسه ورکړ او یوازې د نثر او ډرامو لیکنې ته مې ملا وتړله. په **۱۳۵۷** لمریز کال کې کله چې په یوولسم ټولګي کې مې درس وایه، د (( افغان او انګلیس د ریو جګړو ته یوه کتنه )) تر سرلیک لاندې مې د ښوونځي د دورې د تاریخ د کتابونو له مطالعې څخه خپله لومړنۍ مقاله ولیکله چې تحقیقي بڼه یې درلوده او په دریو برخو کې د ننګرهار په ورځپاڼه کې خپره شوه.

د څو تمثیلي ټوټو تر لیکلو وروسته مې په اووو پردو کې د (( انتحار )) یا ځان وژنې تر نامه لاندې خپله لومړنۍ ستیج ډرامه ولیکله چې د ډرامې د مختلفو پردو ترمنځ وقفو کې مې د مخکینیو پردو لنډیزونه په خپله نندارچیانو ته وړاندې کوله. د ډرامې موضوع د یوې نجلۍ پر ژوند څرخیده چې د خپل تره د زوی سره مینه لري خو پلار یې د یو څه شتو او جایداد په بدل کې هغه د بل کلي د خان یو بد عمله زوی ته په نامه کوي. په پای کې د نجلۍ مور، هلک او په خپله د نجلۍ عذرونه او زارۍ هیڅ ځای نه نیسي او ډرامه د نجلۍ په ځان وژنې سره پای ته رسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ډرامه لومړی د ننګرهار د عالي لیسې د هلکانو او د ننګرهار د آلایي لیسې د نجونو له خوا د ننګرهار د لیسې په ستیج کې ننداري ته وړاندې شوه چې وروسته بیا د ننګرهار د لیسې د ښارندویانو په ګډه د ننګرهار د مرکزي ښار جلال آباد د سپین غر په سینما کې خلکو ته وړاندې شو. د ((انتحار)) ډرامه د هیواد د تکړه لیکوال او ژورنالیست ګلستان غالب په واسطه ډایرکټ او د ننګرهار د نومورو لیسو د تکړه لوبغاړو منور ایوبي، داود سروري، زرغونه حیاتۍ او نورو له خوا چې نومونه یې زما په یاد کې نه دي پاتې، تمثیل شو. دا یوه سندریزه ډرامه وه چې درې سندرې یې درلودې. د ډرامې اصلي کرکټره چې زرغونه حیاتۍ د ډرامې د نجلۍ رول یې لوبوله، په خپله د ښه غږ څښتنه او د سندرو ویلو د ښه استعداد درلودونکې وه چې د ډرامې دوی سندرې به یې ژوندۍ د تمثیل په حال کې وړاندې کولې. په دې مانا چې په یو وخت کې به یې هم تمثیل کاوه او هم به یې سندرې ویلې. سازیانو به د پردې ترشا د هغې ملګرتیا کوله. د هیواد د پښتو ژبې دوو نورو خوږژبیو سندرغاړو استاد یار محمد چې په نومورې لسیزه کې یې د ننګرهار په عالي دارالمعلمین کې د تدریس چارې په غاړه لرلې، او خدای بخښلی مسافر سفری چې تیر کال (۱۳۸۲ لمریز) څه موده وړاندې شهید کړی شو، او دواړه د افغانستان د ملي ټلویزیون وتلي هنري خیرې وې، د انتحار د ډارمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه بله سندره په ګډه سره د ډارمې د واده په صحنه کې د نجلۍ د ځان وژنې څخه لږ مخکې وویل.

زه د انتحار ډارمه د خپل ډرامه لیکنې د کار پیل ګڼم، خو کله چې په ۱۳۵۹ لمریز کال کې د کابل پوهنتون د انجنیرۍ په پوهنځي کې مې خپل عالي تحصیلات پیل کړ نو ورسره مې د افغانستان د ملي راډیو او ټلویزیون، د افغانستان د لیکوالو د اتحادیې د خپرنیز ارګان (( ژوندون )) مجلې، د افغانستان د هغه مهال د راډیو، ټلویزیون او افغانفلم د کمیټې د خپرنیز ارګان (( آواز )) مجلې او نورو خپرونو سره مې خپلې قلمي همکارۍ هم پیل کړې او په دې برخه کې مې تر لسو کلونو پورې د افغانستان د ملي راډیو او ټلویزیون د بهرنیو خپرونو د اردو ژبې د پروګرامونو د سکرپټونو د لیکوال، جوړونکی او لوستونکی یا ویاند په توګه کارکاوه، د ټلویزیون د سینمایي خپرونو د ادارې له پاره مې هندي فلمونه په پښتو او دري ژبو ژباړل او ورسره مې د هند د نیمې وچې د نومیالیو لیکوالانو لنډې کیسې، ډرامې او نورې لیکنې ژباړلې چې په دې برخه کې د رابندرنات ټیګور د (( ډاک ګهر ))، (( راجا )) او (( لال کنیر )) د ډرامو یادونه کولی شم. په ۱۹۹۱ عیسوي کال کې هغه مهال چې زه د کابل پوهنتون له خوا د ماسټرۍ د ډیپلوم د ترلاسه کولو له پاره هندوستان ته ولاړم، او دا ډرامې د افغانستان د هنرمندانو د اتحادیې له خوا تر چاپ لاندې و، په وروستیو کلونو کې د رامنځته کیدونکو حالاتو په وجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوموړې ډرامې نه یوازې دا چې له چاپ څخه پاتې شول، بلکې ټایپي نسخې یې د نوموړې اتحادیې له دفتر څخه ورکې شوې. د نوموړو ډرامو له جملې څخه یوازې د ((ډاک گهر)) یا پسته خانې د ژباړې یوه کاپي په تصادفي توګه راسره پاتې ده چې که ژوند باقي وي، په نږدې راتلونکې کې به یې انشاءالله چاپ کړم. د رابندرنات ټیګور د ډرامو د ژباړې په څنګ مې د ټیګور پر ژوند او ډرامو باندې د پښتو، دري او اردو ژبو له ماخذونو څخه په استفادې سره یوه اوږده معلوماتي لیکنه هم وکړه چې د ټیګور د ډرامو د ارزونې په څنګ کې یې د ډرامه لیکنې په برخه کې زما لید او پوهې ته پراختیا ورکړه.

کله چې په ۱۹۹۱ عیسوي کال کې د کابل پوهنتون له خوا هندوستان ته د ماسټرۍ د تحصیل له پاره ولاړم نو د نوموړې هیواد د اوترا پردیش ایالت د رورکی په پوهنتون کې په خپل تحصیل بوخت وم چې په هیواد کې سیاسي وضعه بدله شوه او زما کورنۍ پېښور ته کډه وکړه. د تحصیل په پای کې افغانستان ته د ستنیدو لارې د نورو هیوادو اول په شان زما پ مخ کې هم تړلې شوې وې. زه د کابل پرځای پېښور ته ولاړم. په پېښور کې یو شمیر نړیوالو مرستندویو ادارو د افغان کډوالو د هوساینې، روغتیا او ښوونې او روزنې له پاره کار کول. په ۱۹۹۴ عیسوي کال کې د بي بي سي د ښوونیزو پروګرامونو اداره د افغانانو له پاره د ((نوی کور، نوی ژوند)) د ښوونیزو پرله پسې ډرامو د لړۍ د پیل کولو په درشل کې وه او ددې کار له پاره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو شمیر ډرامه لیکونکو ته اړتیا درلود. د نوموړې اداري د اعلان په ځواب کې د پښتو او دري ژبو ۴۳ تنو لیکوالانو ځانونه کاندید کړي و او په نظر کې وه چې د یو تن انګریزلاربنود ډن ګرټ له خوا په دوو ډلو کې ترینه د ډرامه لیکنې آزموینه له دوی نه واخیستل شي. د ازموینې د پرمخ بیولو او ژباړې په برخه کې خدای بخښلی محمد اسمعیل نیاز چې یو تکړه افغان ژورنالیست او د بي بي سي د پښتو څانګې یو تکړه او وتلی پروډیوسر و، پرمخ بیول کیده. د لیکنې ازموینې بڼه داسې وه چې هره ورځ به د ورځې په پیل کې د ډرامې د یوې ځانګړتیا، بڼې او یا د صحنو د ځانګړنې په باب لیکوالانو ته معلومات ورکول کیده، او وروسته به ټولو ته دنده وسپارله شوه چې په یوه ټاکلي وخت کې دې لیکنه پرې وکړي. د لیکنې له پړاو نه وروسته به له هر لیکوال څخه وغوښتل شو چې خپله لیکنه ولولي څو نور لیکوالان پرې خپل نظر ورکړي او په اصطلاح هغه نقد کړي. د نظریو په پای کې به په خپله لیکوال ته هم وخت ورکړ شو چې د نورو لیکوالانو نظریې رد کړي او یا یې هم ومني. بیا به د ورځې ټول جریان ثبت او په انګریزي ژبه وژباړل شو او د د ازموینې مسوول کس ته د قضاوت او ارزونې له پاره وسپارل شو.

د یوې اونۍ په پای کې له ۴۳ تنو لیکوالانو څخه یوازې ۱۳ تنه د ازموینې دویم پړاو ته لار پیدا کړل. ازموینه د دویمې اونۍ له پاره په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکینی بنه دوام وکړ او په پای کې یو ازې شپږ تنه لیکوالان غوره شول چې خپل د ډرامه لیکنې کار په پښتو او دري ژبو پیل کړي. له نیکه مرغه چې زه هم د دغو شپږو تنو لیکوالانو په کتار کې راغلم. د دغې ډلې نور لیکوالان میرمن شریفه پاڅون، مهدی دعاګوی، مرحوم عبدالمنان ملګری، موسی رادمنش او احد پیغام و.

د ((نوی کور، نوی ژوند)) د ډرامو د لیکنې پروسه ډیره په زړه پورې او ګټوره وه. تر ټولو لومړی به د ډرامو د ایډیټور کاتب پاڅون له خوا د ټاکل شوو موضوعګانو په باب د ډرامو د کیسو کرښو ته انکشاف ورکړ شو. نوموړې کرښې به د کیسو د کرښو په انکشافی غونډه کې د لیکوالانو او مسوولینو له خوا تر بحث، زیاتونې او کمونې لاندې ونیول شوې. بیا به مو نوموړې کرښې د تمویل کوونکو او نورو څیریه موسسو د مسلکي مشاورینو په مشورتي غونډه کې د هغوی د نظریو د اخیستلو له پاره وړاندې کړې. په دغه غونډه کې به د کیسو کرښې په هراړخیزه توګه وڅیړل شو او تر علمی، ټولنیز، کلتوري، مذهبي، سیاسي او اقتصادي سمونو لاندې ونیول شو. له دې پړاو نه وروسته به د نوموړو کرښو په اوږدو کې د لیکوالانو د ډلې له خوا د ډرامو د صحنو لنډیزونه ولیکل شول. د یادونې وړ بولم چې د صحنو د لنډیز د لیکلو د غونډو د چارو پرمخ بیول هم زما مسوولیت و دا ځکه چې د ډرامو د سکریپټ د لیکنې تر څنګ د لنډیزونو د مسوول دنده مې هم ترسره کوله. په هره میاشت کې مو د ډرامې د دوولسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخو یا د شپیتو صحنو د لیکلو مسوولیت درلود. د ډرامو لنډیزونه مو بیا د لنډیزونو د ایډیټ کولو په غونډه کې چې معمولا زما، کاتب پاڅون او د اداري د مشر ( په لومړي سر کې جان بټ او وروسته بیا خواجه شیرازالدین صدیقي ) په ګډون دایریده، تر بحث لاندې ونیول او وروستی ایډیټ به مو سرته ورساوه. له دې مرحلې نه وروسته بیا د ډرامو لنډیزونه مو د پښتو او دري ژبو لیکوالانو ته ورکړ چې د هغوی له مخې دې د صحنو خبرې اترې ( ډیالوګونه ) ولیکي. د ډرامو د لیکلو وروستی پړاو د ډیالوګونو د ایډیټ پړاو و. په دې پړاو کې به مرحوم منان ملګری پښتو ډرامې او مهدی دعاګوی دري ډرامې ایډیټ کولې او بیا به د ډیالوګونو د ایډیټر کاتب پاڅون او د اداري د مسوول له خوا په یوه غونډه کې چې کله کله به ماهم په کې ګډون کاوه، وروستی کیده. ددغې مرحلې نه وروسته به ډرامې د تمثیل د تمرین او ثبت له پاره واستول شول. تر لومړیو شپږو میاشتو پورې مو د ډرامې د لارښود تر نظر لاندې ډرامې لیکلې چې دا کار د یو ډول روزنیز ورکشاپ بڼه درلوده. وروسته بیا افغان لیکوالانو خپل کار ته دوام ورکړ چې تر اوسه پورې په هماغه بڼه دوام لري.

ددغې ښوونیزې ډرامې له پاره مې د ۱۹۹۴ څخه د ۱۹۹۷ کال تر وروستی ربعې پورې په سلګونو ډرامایي صحنې ولیکلې او د صحنو د لنډیزونو د همآهنګ کولو دنده مې ترسره کاوه. له هغه نه وروسته د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د سازمان په

(c) ketabton.com: The Digital Library



استازیتوب مې تر **۲۰۰۵** کاله پورې په اړوندو مسالو باندې د نظر ورکولو له پاره د هغوی په میاشتینیو مشورتي غونډو کې ګډون کاوه چې په دې توګه مې د (نوی کور، نوی ژوند ) له ډرامو سره اړیکې تر لسو کلو زیات دوام وکړ. کله چې په ۲۰۰۲ عیسوي کال کې هیواد ته بیرته راستون شوم او په کابل کې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د سازمان د عالي کمیشنرۍ په دفتر کې مې د ډله ییزو اطلاعاتو د مسوول په توګه کارپیل کړ، په **۳۲** برخو کې مې په پښتو او دري ژبو د کډوالو د ستنیدو په باب یوه راډیویي ډرامه ولیکله چې د افغانستان د تعلیمي راډیو او ټلویزیون د ادارې له خوا جوړه او د راډیو افغانستان له لارې خپره شوه.

د لنډو کیسو، ناولونو، شعري ټولګو او ډرامو د کتابونو د لوستلو په څنګ کې له سینما او په تیره بیا له هندي فلمونو سره مې د ښوونځي د وختونو څخه را په دې خوا زیاته علاقه درلوده چې وروسته بیا د فلمونو له پاره په لیکنو بدله شوه. د تمثیلي ټوټو په څنګ کې مې لکه څنګه چې وړاندې یادونه وکړه، د ټلویزیون له پاره د رابندرنات ټیګور د ډاک ګهر یا پسته خانې ډرامه په شپیتمه لسیزه کې په دري وژباړله او د استاد عبدالقیوم بیسد په شمول مې د ملي ټلویزیون یو زیات شمیر واکدارانو ته د تمثیل په غرض وسپاره چې په دوی کې قادرفرخ، سرور انوري، وحید صمدزی، هارون یوسفي، ف عبادي او نور شامل دي. که څه هم استاد بیسد او نورو ډرامه ډیره

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښه کړه خو کلونه تیرشول او نومورې ډرامه ننداريې ته وړاندې نه شو. علت يې ښايي دهغې زمانې د راډيو او ټلويزيون په انحصاری کړيو کې د نوو او ځوانو ليکوالانو د ننوتلو د لارې خنډونه او ستونزې وې.

کله چې په ۱۳۶۳ لمريز کال کې د راډيو افغانستان د بهرنيو خپرونو د اردو ژبې د پروګرامونو په مديريت کې مې د ليکوال، پروډيوسر او وياند دنده ترلاسه کړه نو ورسره مې د ټلويزيون د سينمايي خپرونو د اداري له پاره د هندي فلمونو پښتو او دري ژباړه پيل کړه او يو زيات شمير هندي فلمونه مې د افغانستان د ملي ټلويزيون له پاره وژباړل چې دا کار زه د فلمونو د سکرپټ او همدارنګه د فلمونو د صحنو د جوړونې او ښکلا سره زيات اشنا کړم. دې کار ته مې نږدې لس کاله دوام ورکړ چې زما له پاره يوه ګټوره تجربه وه.

د همدغو کلونو په اوږدو کې مې د (آواز) د مجلې له پاره د هنري او سينمايي پيښو د مياشتنی رپورټ ليکلو مسووليت په غاړه درلود او د افغانستان د سينمايي خلکو سره مې ليدنه د هغوی د کارونو په باب د معلوماتو د راټولولو له پاره اړتيا وه چې دا کار زه له هغوی سره ترډيرې اندازې پورې اشنا کړم چې کله د هندوستان نوميالي سينمايي خيرو سنيلدت، شبانه اعظمی او نصيرالدين شاه په ۱۳۶۸ لمريز کال کې له افغانستان څخه ليدنه وکړه نو د چهلستون په ماڼۍ کې د افغانستان د سينمايي لوبغاړو او مينه والو په غونډه کې مې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغاني او هندي اړخونو د استازو انجنير لطيف او سنيلدت د ويناوو د ژباړې کار راته راوسپارل شو. دغو تولو پېښو له سينما سره زما مينه پياوړې کړه.

کله چې د ۱۹۹۲ کال د دسمبر د مياشتې په **۲۵** مه نيټه په هندوستان کې د خپلو ماسټرۍ دورې د تحصيلاتو د پای ته رسولو نه وروسته پېښور ته ولاړم نو د (سحر) فلم جوړولو د کمپنۍ د مشر سيد عبدالقهار روحاني سره اشنا شوم او د هغه په ملګرتيا مې د دوو بهرنيو ادارو د مستندو فلمونو له پاره په انګريزي ژبه دوه سکرپټونه وليکل چې د سيد عبدالقهار روحاني له خوا ډايرکټ او جوړ شو. په هغو کلونو کې زما يو دوست او همکار موسی رادمنش هم په پېښور کې د (دود و خاکستر) په نامه پر يو مستند فلم کار کاوه. د نوموړي فلم د جوړولو په دوران کې له هغه سره په تماس کې وم او معلومات مو سره شريکول چې دا کار د هغه له فعاليتونو سره اشنا کړم.

د ۱۹۹۷–۲۰۰۲ کاله پورې په اسلام آباد کې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د سازمان د عالي کميشنرۍ په اداره کې د مطبوعاتي مرستيال په توګه د دندې په دوران کې مې د نوموړې ادارې له پاره د څو مستندو فلمونو د جوړولو، فلم اخيستنې او ايډيټ کولو د څارنې کار په غاړه درلود چې د فلم جوړونې د تخنيک سره يې تر کافي اندازې پورې بلد کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیواد ته له راستنیدو څخه وروسته د ۲۰۰۳ عیسوي کال د اپریل په میاشت کې مې د افغانستان د تعلیمي راډیو او ټلویزیون د اوسنی رییس انجنیر صفي الله ځیر سره چې زما د پوهنتون د زمانی هم صنفی دی، د تایلیند د بنکاک په ښار کې د ان، اچ، کی د جاپان د جایزې د آسیایي هیوادونو په فورم (NHK JAPAN PRIZE ASIAN FORUM ۲۰۰۳) کې د ګډون امکان ترلاسه کړ. په نوموړی فورم کې د بیلابیلو هیوادونو یو زیات شمیر فلمونه ننداریې ته وړاندې او تر بحث لاندې ونیول شول. د یوې اونۍ له پاره دا غونډه ماته د یو اغیزمن روزنیز کورس حیثیت درلود. له دغې غونډې نه پوره یو کال وروسته کله چې په کابل کې د ملګرو ملتونو د سازمان د وګړو د صندوق له پاره مې د مطبوعاتي مسوول په توګه کارکاوه، د نوموړې ادارې په مالي مرسته او د ښځو د چارو وزارت په حمایت سره مې د ( اولاد ) د ټلویزیوني هنري او روزنیز فلم سناریو ولیکله او د هغه د جوړولو چارې مې هم په غاړه واخیست. یو کال وروسته مې د جاپان د جایزې د تعلیمي پروګرامونو د سکرپټ د لیکلو د سیالیو له پاره یوه سناریو (همدا کتاب) ولیکله چې د نړۍ د مختلفو هیوادونو له جملې څخه لومړی دلسو غوره سکرپټونو او بیا د پنځو غوره سکرپټونو په ډله کې وشمیرل شو او وروسته د جاپان د توکیو په ښار کې د جوړشوو سیالیو په دوران کې د سکرپټونو د وړاندې کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نتیجه کې زما سکرېپټ لومړی مقام او د جاپان نړیوال جایزه وګټله. سربیره پرهغه زما د ( اولاد ) فلم هم چې جایزې ته کاندید شوی و ، د غوره فلمونو په کتار کې تر ټولو لومړی ننداريې ته وړاندې شو چې د سینمايي خلکو او ننداره کوونکو له خوا یې تود هرکلی وشو.

وروسته مې ددوو نورو فلمونو سناریو ولیکل او د هغوی د جوړونې چارې مې په غاړه واخیستل. د ( مجبور ) فلم مې په دري ژبه او د ( پریکړه ) فلم مې په پښتو ژبه د خپل سناریو د جایزې په پیسو جوړ کړ. دا دواړه فلمونه د ۲۰۰۲ کال د جاپان د جایزې په سیالیو کې د غوره فلمونو په کتار کې ننداريې ته وړاندې شو.

د مجبور او اولاد فلمونو د ډایرکټ کار مې د یو تړون له مخې تکړه ډایرکټر عارف بي ریا ته ورکړی و. کله چې د مجبور فلم د ښځو د چارو د پخوانۍ وزیرې ډاکټرې مسعوده جلالې په ګډون د نوموړی وزارت په تالار کې د یوې غونډې په ترځ کې پرانیستل کیده، نو د افغانستان د پیژندل شوی ژورنالیست، علمي شخصیت او د کابل پوهنتون استاد پروفیسور عصمت الهي له خوا ډیر عالي وارزول شو چې د فلم جوړونې په کار کې زما د لا زیات تشویق باعث شو. د مجبور د فلم دویم امتیاز داو چې په ۱۳۸۵ کال کې د افغانستان د اطلاعات ، فرهنګ او ځوانانو د وزارت له خوا درې جایزې یې ترلاسه کړ چې دوه جایزې یې دوو لوبغاړو ته او دریم یې د فلم کامره چلوونکی سید ظاهر ظهور ته ورکړ شو. د فلم د سناریو په اړه د افغانستان د ټلویزیون د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهال مشرموسي رادمنش او د فلم ډایرکټر عارف بي ریا هم راته مبارکۍ راکړې او ویې ویل چې دوی د موثقو معلوماتو له رویه خبر دي چې د مجبور د فلم سناریو هم یوه جایزه ترلاسه کړې ده، خو نه د جایزو د ویش په غونډه کې اعلان وشو او نه په ورځپاڼو کې د هغو کسانو په کتار کې چې جایزې یې وړې وې، زمانوم راغی. داسې په نظر راغی چې په هیواد کې د نورو ډګرونو په شان د خلکو معنوي امتیازات هم کله کله تر حملې او لوټمار لاندې راځي.

د پریکړې د فلم ماجرا هم په زړه پورې ده. د پریکړې د فلم د جوړولو کار د ۲۰۰۶ کال د اکتوبرد میاشتې څخه مخکې بشپړ شوی و او د همدې کال د اکتوبر په میاشت کې په توکیو کې د ان، اچ، کی د جاپان جایزې له خوا نندارې ته وړاندې شو چې د فستیوال د ګډون کوونکو له خوا یې تود هرکلی وشو. ورسره په څنګ کې د جاپانې ژبارې سره د NHK د ښوونیز ټلویزیوني چینل له لارې زما د سکرېپټ د جایزې او د نوموړي فلم د جوړونې د کار په باب زما د مرکې سره یو ځای خپور شو.

د توکیو د فستیوال په دوران کې د باسل-کالسروهی د فورم (Basel-Kalsruhe Forum) چې د بکا فورم (BakaFORUM) په نامه هم یادیږي، منتظم نایکل مارکوس (Nickle Markus) چې د ایټالیې اوسیدونکی دی، زه یې د ۲۰۰۷ عیسوي کال د سویس د باسل ښار ته دعوت کړم چې د پریکړې فلم هلته د باسل-کالسروهی په فستیوال کې نندارې ته وړاندې کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۱۳۸۵ کال د غبرګولي د ۲۲ نيټې څخه تر ۳۱ مې نيټې پورې په کابل کې د ګویټه انستیتیوت او د فرانسې د کلتوري مرکز له خوا د مستندو او لنډو داستاني فلمونو دويم نړيوال فستيوال جوړ شو چې د فستيوال له پاره د فلمونو د غوره کولو د کميټې غړيتوب ماته هم راکړشوی و. د افغانفلم رييس انجنير لطيف، د افغانستان د سينماګرانو د اتحاديې رييس جوانشير حيدري، نوميالی ډايرکټر او ليکوال احد ژوند ، د ګويټه انستيتيوت افغان مشر ابراهيم هوتک، پيژندل شوې ډايرکټره رويا سادات او د عبدالملک شفيعي چې د فستيوال د دايرولو چارې يې په غاړه لرلې، د دغې کميټې نور غړي وو. په نتيجه کې د ۲۰ څخه زيات فلمونه وکتل شول او د هغوی له جملې څخه يوازې ۱۲ افغاني فلمونه غوره شول چې دوه په کې د مجبور او پريکړې فلمونه وو، د طلوع د تلويزيون له لارې ننداريې ته وړاندې شول او د ژوري کميټې له خوا چې د هيواد پيژندل شوی ډايرکټر او د افغانستان د ملي راډيو او تلويزيون رييس چې هغه واحد نظري هم ددغې کميټې غړيتوب درلود. د جايزو د ويش په غونډه کې چې د استقلال د ليسې په تالار کې جوړه شوې وه، واحد نظري په خپله پرانيستونکې وينا کې وويل چې هغه د ژوري کميټې د پريکړې سره موافق نه دی ځکه چې د هغه په فکر هغه فلم ته جايزه ورکړی شوه چې بايد نه وای ورکړ شوی، او هغه فلم چې بايد د جايزې مستحق ګڼل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی وای، د جایزې مستحق ونه ګڼل شو. محترم نظري زیاته کړه چې دی ځکه د ژوري کمیټې پریکړې ته غاړه کیښوده چې د رای اخیستنې په نتیجه کې ورستی پریکړه صادرید له او بحث او دلایل په کې هیڅ برخه نه درلود. د غونډې په پای کې واحد نظري چې هغه مهال د شمشاد د ټلویزیون رییس و ، د شمشاد د ټلویزیون یو ستاینلیک چې د شمشاد د ټلویزیون د عمومي رییس او بنسټ ایښودونکی حاجي فضل کریم فضل په واسطه لاسلیک شوی و ، د پریکړې د فلم د جوړولو په ویاړ د نومورې فلم د ډلې په استازیتوب ماته راکړ.

د یادونې وړ بولم چې د جایزو د ویش د غونډې جریان په مستقیمه توګه د طلوع د ټلویزیون له لارې خپرېده. د خپرونې ویانده دلافروز ځیرک چې د پښتو ژبې یوه تکړه لوبغاړې، لیکواله، شاعره او د فلمونو ډایرکټره ده، راته وویل چې د فستیوال د جوړولو مسوول چې مخکې ترې یادونه وشوه، ډېره هڅه وکړه چې د بېلا بېلو عواملو په وجه د غونډې وړاندې کوونکې دا موقع برابره نه کړي چې د شمشاد د ټلویزیون ستاینلیک ماته راکړي او دا خبر د طلوع د ټلویزیون له لارې خپور شي، خو دلافروز ځیرک پوهېده چې د خپرونې جریان په مستقیمه توګه خپرېږي نو ځکه یې واحد نظري او ماته ستېج ته د راتلو بلنه راکړه او ستاینلیک ماته راورسید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه هیوادنی فستیوال کې ما خپل دوه فلمونه (مجبور او پریکړه) چې د هغو د سناریو د لیکلو او پروډکشن چارې په غاړه لرلې، کاندید کړي وو، خو برعکس د فستیوال د جوړونکی یا جوړونکو له خوا زما د فلمونو د ډایرکټرانو عکسونه او پېژندنه د فستیوال په اسنادو کې خپریده، غونډو ته هغوی بلل کیده چې په نړیوالو فستیوالانو کې داسې نه وي بلکې ارتباطي کسان هغه وي چې فستیوال ته د فلمونو د تسلیمولو فورمې ډکې کړي وي. په هر حال په دې خبره مې ځان ته قناعت ورکړ چې ددوی ګناه ځکه نشته چې ښايي دوی په دې خبرو نه پوهیږي او یا که پوهیږي نو د تعصب له مخې دا کارونه کوي چې په داسې حالاتو کې شخړو او په تیره بیا بې ګټو شخړو ته ملاتړل هم را ته لیونتوب ښکاري. زه په دې عقیده یم چې ددې پرځای چې سړی د تیرو کیسو په سپینولو کې وخت تیروي، په راتلونکي کې د ګټورو کارونو په سرته رسولو سره خپل مقصد ته ژر رسیدای شي.

په هرحال، کله چې د ۲۰۰۸ کال د اپریل د میاشتې له لومړۍ نیټې څخه مې د شمشاد ټلویزیون د نشراتو د رییس په توګه مسوولیت په غاړه واخیست، د ټلویزیوني خپرونو، فلمونو او پرله پسې ډرامو د جوړولو او ډایرکټ کولو په برخه کې نورې تجربې ترلاسه کړې او د ټلویزیوني خپرونو په څنګ کې د سلګۍ په نامه د یو ټلویزیوني لنډ هنري فلم د لیکنې او ډایرکټ چارې مې هم ترسره کړې، د ښکلا په نامه یوه ټلویزیوني پرله پسې ډرامه مې ولیکله چې د فلم اخیستلو یا شوټنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار یې د شمشاد ټلویزیون له طرفه په جلال آباد کې د جلال فلم په مرسته بشپړه او بیا د شمشاد ټلویزیون له لارې خپره شوه.

اوس هم د څو ډرامو، ټلویزیوني او سینمایي فلمونو طرحې مې د ذهن فضا ډکه کړې چې د کاغذ پرمخ راوړلو ته یې زما تلوسه ورځ تربلې تلوسه زیاتیږي، خو خدای زده چې په هیواد کې د فرهنګي اسانتیاوو او امکاناتو د محدودیتونو په چاپیریال کې د لیکلو او جوړولو امکان یې ترلاسه کړم.

په درناوي

پوهندوی ډاکټر عبدالقیوم کریم

د ۱۳۸۲ لمریز کال د زمري لسمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پرېکړه

## د لنډ هنري فلم لپاره ډرامه

## لوبغاړي

۱. ښوونکی: د ډرامې مرکزي لوبغاړی، ځوان، په خپل عزم ټينګ ولاړ، مهربانه او منطقي

۲. سلامت خان: د پوخ عمر سړی، د کلي د اقتدار خاوند يو خان، د ښوونې او روزنې مخالف، د ولسوال ملګری

۳. ناظر: ځوان، د منفي فکر خاوند ، د خان ملګری او ناظر

۴. سيلانی: د کلي يو تن او سيدونکی، د پاخه عمر خاوند ، د آس ګاډی چلوونکی، خواخوږی او د ښوونې او روزنې پلوی.

۵. ځلمی: د ۱۴ کلو يو ځوان هلک ، د خان زوی او د ښوونکی زده کوونکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶. زرمینه: د سلامت خان ځوانه لور، تر ځلمی مشره او د زده کړې لیواله.

۷. مور: د سلامت خان ښځه او د ځلمی او زرمینې مور.

۹. مدیر: د ولسوالی د ښوونې او روزنې مدیر.

۱۰.ملا: د کلي د جومات ملا

۱۱. ثوتنه نور کلیوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پرېکړه

## لومړۍ صحنه

ځای: د ولسوالۍ د ښوونې او روزنې د مدير دفتر

وخت: ورځ

**د صحنې پېژنه:**

د ښوونې او روزنې مدير ملي جامې په تن کې لري او ميز يې د افغانستان په درې رنګه بيرغ او د دفتر ديوالونه يې په ښوونيزو چارتونو او کاليزو ښکلي شوي دي. ښوونکی چې پتلون او کميس يې اغوستی دی، د هغه د ميز به مقابل لوري کې پر چوکۍ ناست دی، ښوونکی د ولسوالۍ له اړوندو کلو څخه د يوه کلي په ښوونځي کې چې د جګړو له امله وران شوی دی، خپل د تقرر سند وړاندې کړی او له هغه سره خبرې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مدیر: ( په ډېره مینه او درناوی ) دا خو سمه، خو په کلي کې داسې څوک پېژنې چې په د اوسېدو د ځای په برخه کې درسره مرسته وکړي؟

ښوونکی: نه، لومړی څو ورځې به په ښوونځي کې تیرې کړم او ورسره به د اوسېدو یو ځای هم ځانته وګورم.

مدیر: ( په پلټنې سره ) آیا پوهیږې چې ښوونځی پرته له څلورو دیوالونو، نور هیڅ نلري او ته لومړی ښوونکی یې چې پس له څو کلونو هلته ځې؟

ښوونکی: هو، همداسې راته ویل شوي وو، خو ما پرېکړه کړې، هرڅنګه چې وي، زه به د دې کلي ماشومانو ته سبق ورکوم.

مدیر: ( د ښوونکی پرېکړه ستایي ) معلم صیب، تاسې ډېر ستر ګام پورته کړی دی. زه ستاسې د پرېکړې درناوی او ټینګ عزم ته ته سلام کوم او د هیواد د اولادونو په ښوونه او روزنه کې مو بریالیتوبونه غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



((د ښوونې مدیر، له خپله جیبه قلم راباسي، د ښوونکی سند لاسلیک کوي، له خپلې چوکۍ نه راولاړېږي او د لاس کاغذ ښوونکی ته ورکوي هغه ښوونکی ته لاس ورکوي او په هیوادنۍ مینه ورسره غاړه وځي، ورسره لاس ورکوي او د هغوی په تصویر باندې د فلم ټایټل پیل کیږي.))

ښوونکی په داسې حال کې چې سند یې په لاس کې دی، خپله پنډوکۍ هم له مځکې پورته کوي او له هغه ځایه د باندې وځي. دموټرو یوې کوچنۍ هډې ته رسیږي او په یو موټر کې د کلي په لور روانیږي. کلي ته نږدې له موټره کښته کیږي او د کلینر په وینا د کلي په لور ښوځیږي. په تنګو خامه لارو کې له یو څه پلي مزل څخه وروسته د سیلانی په نامه د نومورې کلي له یوه سرې سره د هغه په آس ګاډۍ کې سپریږي او دواړه په خوشحالی او خبرو اترو د کلي په لور روانیږي. څو قدمه وړاندې دوه کسان پر آسونو سپاره ددوی له مخې تیریږي. د فلم ټایټل د آسونو د پښو په دوړو کې پای ته رسیږي.

ښوونکی: (په داسې حال کې چې خپله پزه یې په دستمال له دوړو پټه کړې وه، له د اس ګادی له خاوړ څخه پوښتنه کوي) بابا، دوی څوک وو؟

بابا: ای معلم صیب، دوی زموږ د کلي واکداران دي. سلامت خان او د هغه ناظر. فکر کوم ولسوالۍ ته لاړل.

ښوونکی: ولسوالۍ ته؟ د څه د پاره؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیلانی: د خپل انډیوال ولسوال لیدو ته. ولسوال یې ډیرنـــــــږدې ملګری او ملاتړ دی. خو یوه خبره په یاد ولره

چې د سلامت خان له مشورې نه پرته به دا ښوونځی

بیا جوړ نه شي.

ښوونکی: ولې بابا؟ ښوونځی خو دولتي دی، سلامت خان په کې

څه کارلري؟!

سیلانی: ای معلم صیب، که سلامت وغواړي، په هر یو کار کې

خنډونه پیدا کولی شي.

ښوونکی: (په چورت کې) که دا سې وي نو زه به له خان صیب ســــره بــــه خامخاګورم.

سیلانی: او بله خبره، چې دا (پتلون ته اشاره کوي) پتلون متلون

به په کلي کې نه اغوندې ښه! ځکه چې سلامت خان به

یې دانګریزانو جامې وګڼي، چې د انګریزانو جامې

یې وګڼلې، په تا به د کفر تور ولګوي، او چې د کفر

(c) ketabton.com: The Digital Library



تور يې دربانديې ولګاوه، تا له کلي وشړي او مکتب
به بيرته بنده شي.

ښوونکی: (په خندا ) بابا. زما د راتلو موخه خود کلي د ښوونځی
بيـــا فعــــالول اود ماشــومانو زده کـــړه ده او بـــس. زه بـــه د
ماشومانو د زده کړې له پاره هريوګټورکار ګټه ور
وګڼم.

سيلانی: معلم صيب، (ښوونځی ته په ګوته اشاره کوي) هغه دی
د کلي ښوونځی !

ښوونکی: خير اوسې، کور دې ودان
(له ګاډی نه راکوزيږي او غواړي له جيبه پيسې راوباسې )
سيلانی: نه معلم صيب کرا درنه نه اخلم، خويو زوی لرم. غواړم هغه هم
په ښوونځي کې شامل کړم.

ښوونکی: ولې نه بابا ، همدا خو زه غواړم چې ټول کليوال خپـــل ماشـــومان بيـــا
ښوونځي ته راواستوي چې ښـوونځی بيـا فعالـه شـي. زه غـواړم سـبا
سهارله د کلي له
مشرانو څخه همدا غوښتنه وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيلانی: (خوشحاله کيږي) دا خو ډيره ښه خبره ده. دا کارخو به سبا وشي، اوس راځه نن شپه له ماسره لاړشه. دمه به دې هم جوړه شي او ستړيا به دې هم ووځي. سر له سبا نه به بيا خپل کار پيل وکړې.

ښوونکی: له تاسره خو نه شم تلی. غواړم لومړۍ شپه ( ښوونځی ته ګوري) په خپل کور کې تيره کړم.

سيلانی: نو بيا به د شپې له پاره هرڅه چې تيار وي، هغه به هم درته راوړم او ديو کټ به هم درته وخورم (او روانيږي)

ښوونکی: نه بابا، داسې مه کوه، زه نه غواړم چې تا ته تکليف درکړم.

سيلانی: څه پروا کوي؟ ته خو زمونږ ميلمه يې، خدای پامان (او خپل اس چو وکوي او ښوونکی د ښوونځي په لور روانيږي.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویمه صحنه

ځای: د کلي دیره

وخت: د سهار له چای څخه وروسته

**د صحنې پېژندنه:**

ښوونکی له کلیوالو سره په غونډه کې هغوی ته کلي ته د خپل راتګ موخه بیانوي او د کلي په بیا فعالولو کې د هغوی مرسته غواړي. ښوونکی د خلکو په وړاندې د ښوونځي، د خپل کار او د ماشومانو د زده کړې په باب معلومات ورکوي. د خبرو په دوران کې ناظر، خان او نور سپین ږیري او مشران په وار وار سره خپلې پوښتنې او نظریې وړاندې کوي چې د ښوونکي په واسطه ورته ځوابونه ویل کیږي. خبرې اترې یو څه دوام کوي.

سلامت: (هڅه کوي چې کلیوالو ته قناعت ورکړي) کلیوالو وروڼو، زه د ماشومانو د تعلیم پر ضد نه یم، مګر د غه ماشومان کار لري، روزګار لري. که چیرې د غه ماشومان ښوونځي ته لاړ شي نو د دوی کورني به له سختو مشکلاتو سره مخامخ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناظر: (هڅه کوي چې د ښوونځی د فعالولو مخالفت وکړي) ښوونځی مو جنګونو وران کړی دی. زه خو وایم چې همدا اسې وران ساتل یې په کار دی چې نورې لانجې راولاړې نه کړي. مولوي صیب، تاسې په کې څه وایئ؟

ملا: (په مشورې سره) مسلمانانو وروڼو، اسلام زده کړې په ښځه او نر فرض ګرزولی دی، ولو که هغه په چین کې وي. دا چې معلم صیب زمونږ کلي ته راغلی او زمونږ ماشومانو ته سبق ورکوي، دا یوه ډیره ښه خبره ده. باید چې دا موقعه له لاسه ورنکړو.

سیلانی: انځرګله، مولوي صیب ډیره ښه خبره وکړه. زه خو حاضر یم چې خپل زوی سر له همدا نن نه په ښوونځي کې شامل کړم.

انځرګل: خان صیب، راځئ چې د ناپوهي د ختمولو له پاره له معلم صیب سره مرسته وکړو چې هم خدای تعالی راضي شي او هم مو ماشومان تعلیم وکي.

ناظر: (لومړی سلامت خان ته په انتقادي نظر ګوري او بیا) خان صیب به په دې شرط دا خبره ومني چې راتلونکی ذمه واري یې تاسې په غاړه واخلئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل تن: ناظر صیب، کومه ذمه واري؟ تعلیم خو یو روا کار دی.

سلامت: ( په اعتراض آمیزه لهجه ) اوس خو درته څه ویلی نه شو ، خو د وخت په رارسیدو سره به په هرڅه وپوهیږئ !

ملا: (په مشورې سره ) خان صیب، هره ستونزه چې را پیدا شي، په جرګو به یې حلوو. خو له هرڅه نه مخکې باید ټول کلیوال د ښوونځي په پاک کولو کې له معلم صیب سره مرسته وکړو.

څو تنه کلیوال له ښوونکی سره په ګډه د کلي د وران او ویجاړ ښوونځی پاک کوي، په کړکیو کې یې پلاستیک نصبوي ښوونکی یوه توره تخته د درس ورکولو له پاره پر دیوال نصبوي او د یو څو کتابچو او پنسلونو په آماده کولو سره د ماشومانو د راتګ له پاره تیاری نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریمه صحنه

ځاي: ښوونځی

وخت: سهار

**د صحنې پيژندنه:**

بله ورځ سهار پس له دې چې لمر راخيژي ، د کلي ماشومان د ښوونځي په لور روانيږي چې په ښوونځي کې يې د ښوونکی له خوا هرکلی کيږي. ښوونکی ماشومانو ته د الفبا د تورو درس ورکوي او بيا له ماشومانو څخه غواړي چې د الفبا تدريس شوي توري د کورنۍ وظيفې په توګه په خپلو کتابچو کې وليکي. بيا د هغوی پاملرنه د حساب مضمون ته رااړوي.

ښوونکی: ګرانو ماشومانو ، نن خو مو د ژبې توري زده کړل. پوه شوئ؟

زده کوونکي: ( په يو غږ ) هو معلم صيب !

ښوونکی: د سبا له پاره مو همدا کورنۍ دنده ده. په خپلو کتابچو کې يې وليکئ. او اوس وار رارسيږي د حساب مضمون ته. لومړۍ بايد شميرل زده کړئ.

( ښوونکی خپل تدريس ته دوام ورکوي )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورمه صحنه

ځای: د سلامت خان کور

وخت: ورځ

**د صحنې پېژندنه:**

د سلامت خان په کور کې چې په ښکلو پردو، توشکو او بالښتونو او همدارنګه په سرو قالینو ښایسته شوی دی، د سلامت خان زوی ځلمی چې له ښوونځی څخه را ستون شوی دی، خپله کورنۍ وظیفه د کتاب له مخې په خپله کتابچه کې لیکي.

زرمینه: (راځي او ځلمي ته) ځلمیه، دا څه کوې؟

ځلمی: خورجانې، کورنۍ دنده مې ترسره کوم او سبق هم وایم!

زرمینه: داوو ایه چې پرې پوهیږې او که هسې خپل وخت خوشې تیروې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلمی: ولې نه پوهېږم؟ داوګوره ! ( په یاد یږي یې چې زرمینه سواد نه لري ) هو رښتیا ، تا خو سبق نه دی ویلی. لیکل او لوستل دې نه دي زده ، څنګه به پرې وپوهیږې؟

زرمینه: ته یې راته وښایه چې زه هم پرې پوهه شم. زه هم غواړم چې یو څه زده کړم.

ځلمی: ( په خندا ) ته خو نجلۍ یې او زموږ د کلي سترې نجونې سبق نه وایي. شرم دی.

زرمینه: (په اریانتیا ) په دې کې د شرم داسې کومه خبره ده چې ته پرې خاندې؟

ځلمی: شرم څه کوې، د خندا خبره خو دا ده چې لا تراوسه پورې هلکانو سبقونه نه دي ویلي او ته غواړې چې سبق ووایې !؟

مور: (راننوزي او دهغوی د خبرو له اوریدو څخه وروسته ) خانده مه، دا هم همدومره د زده کړې حق لري چې ته یې لرې. څیر زویه، هرهغه څه چې په ښوونځي کې زده کوې، دې ته یې په کور کې ورزده کوه !

(c) ketabton.com: The Digital Library



(راننوځي. د کورنۍ غړي راولاړېږي او له سلام او روغبړ څخه وروسته چوپتیا په کوټه کې خپرېږي)

سلامت: (راننوزي او له سلام او روغبړ څخه وروسته) د زرمینې مورې، هغه پاکې جامې مې راکړه چې ولسوالۍ ته ځم.

مور: ښه ده.

(د ځلمی مور بلې کوټې ته د سلامت خان په جامو پسې ځي او سلامت خان کښیني).

ځلمی: (په داسې حال کې چې خپل کتابونه او کتابچې راټولوي) پلارجانه، کتابچې مې ډکې شوي دي. زه هم درسره ولسوالۍ ته ځم چې ځان ته کتابچې او قلمونه واخلم.

سلامت: زه به یې درته راوړم. ته ورځه ناظر ته ووایه چې آس تیار کړي. تا به بل وخت له ځانه سره بوځم.

ځلمی: ښه پلارجانه (او په منډه روانیږي چې د پلار حکم پرځای کړي)

مور: (راځي) جامې دې په هغه کوټه کې تیارې دي. (او بیرته ګرځي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلامت: ښه ده.

زرمینه: ( په ډېر احتیاط سره خپل پلار ته نږدې کېږي او په ډېر احتیاط سره ) پلار جانه، له ولسوالۍ نه زما د پاره هم يوه کتابچه او يو پنسل خو راوړه. زه هم غواړم چې له ځلمي نه په کور کې سبق ووایم.

سلامت: ( د خپل سر په اشارې سره مخالفت کوي ) نه زرمينې، ته ورته اړتیا نه لرې.

زرمینه: پلار جانه، چې ځلمی ورته اړتیا لري نو زه هم ورته اړتیا لرم.

سلامت: ( په غوسې سره ) زرمینې، ته ښه پوهېږې چې ځلمی مې ځکه ښوونځی ته پرېښود چې له کلیوالو څخه وروسته پاتې نه شو. دا په دې مانا نه ده چې ته دې هم سبق ووایې.

زرمینه: ( په عذر او زارۍ ) خو زه له کوره دباندې نه وځم پلار جانه! غواړم په کور کې له خپل ورور څخه زده کړه وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلامت: (په اریانتیا او اندیښنې سره ) ستا خبرې راته د یو لوی توپان پیغام راکوي ! زه د همدې له پاره ځم چې مخکې له مخکې له خپل انډیوال ولسوال سره وغږېږم.

زرمینه: پلارجانه، زه ستا په خبره ونه پوهیدم ! زه خو غواړم یوازې لیکل او لوستل زده کړم.

سلامت: ( له خپله ځایه پاڅیږي او په غوسې سره وایي ) زما مشوره داده چې دا فکرونه پرېږده او که نه نو په دې توپان کې به دې ټول ژوند تباه او برباد شي.

(سلامت خان په غوسه بلې کوټې ته ځي او زرمینه د ناهیلی په عالم کې اریانه پاتې کیږي ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځمه صحنه

ځاي: ښوونځی

وخت: ورځ

**د صحنې پېژندنه:**

سهاردی. زده کوونکي چې د کتابونو کڅوړې تر تخرګ لاندې او یا پر اوږو او لاسونو کې ځوړندې نیولې او شیبه په شیبه ښوونځي ته را نږدې کیږي. ناظر هم د ځلمي سره ښوونځي ته رارسیږي. ښوونکی د ښوونځي په وره کې ولاړ او په خوشحالی سره د ماشومانو هرکلی کوي.

ښوونکی: ناظرکاکا ، سلامونه

ناظر: والیکم سلام معلم صیب، رښتیا ، ځنګه دی دا د ماشومانو سبقونه ځنګه پرمخ ځي قربان؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوونکی: ډیر ښه پرمخ ځي. د زده کوونکو مخ په زیاتیدونکی شمیر له کلي څخه د بیسوادۍ د له منځه تللو پیغام راکوي.

ناظر: هسي نه چې زمونږه کډه هم د بیسوادۍ له کاروان سره د تعلیم په سیلاب لاهو کړې.

ښوونکی: (په اریانتیا ) دا دې څه وویل ناظر صیب؟ بیسوادي د انسان د خوشحالی دښمن او تعلیم د آبادي او یووالي پیغام دی.

ناظر: خو خان صیب وایي چې زمونږ د ژوند بقا د کلیوالو په بیسوادۍ کې ده. که کلیوال تعلیم زده کړي نو زمونږ خبره بیا نه مني او زمونږه واکمني به ختمه شي.

ښوونکی: نه ناظرصیب ، دا خبره سمه نه ده. خلک د تعلیم په رڼا کې په مینه او وروګلوۍ د خلکو پرزړونو حکومت کولای شي خو په زور هیڅکله نه.

ناظر: معلم صیب، زه خو ستا خبرو چرتي کړی یم. نه پوهیږم چې اخر به یې څه کیږي !

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوونکی: ( ناظر ته چې د هغه په خبره په چرتونو کې ډوب شوی ) ناظره، په چرتونو نه پوره کیږي. نیک کار عملی گامونو ته اړتیا لري. خیر، زه لاړم چې ماشومان راته انتظار باسي. د خدای په امان ! ( او زده کوونکو ته ورځي ).

ناظر: ( له ځانه سره په چورت کې ) زه په دې خبرو ښه پوهیږم خو ته په دې نه پوهیږې چې ستا له تعلیم سره دومره مینه ستا د ژوند لـه پاره لوی عذاب جوړیدای شي.

( د ناظر له څیرې نه داسې ښکاري چې هغه فکر کوي چې ښوونکی به خامخا لو ستونزې سره مخامخ کیږي. هغه د خپلې خبرې نه وروسته روانیږي )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږمه صحنه

ځاي: ښوونځی او نور بېلا بېل ځايونه

وخت: ورځ

**د صحنې پېژندنه:**

ښوونکی په ټولګي کې زده کوونکو ته د رسم د مضمون د تدريس په دوران کې د ټولګی د دړې پرمخ آس رسموي او د آس په باب توضيحات هم ورکوي. او له هغه نه وروسته:

ښوونکی: ( زده کوونکو ته ) ګرانو ماشومانو، زه نن خوشحاله يم چې د کلي مشران هم اوس ليکل او لوستل زده کوي.

يو تن: (په خپل ځای ولاړيږي ) معلم صيب، يوه پوښتنه لرم، ښځې ولې سبق نه وايي؟

ځلمی: ښوونکی صيب، زه يې ځواب وايم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوونکی: سمه ده ځلمیه، ته یې ځواب ووایه !

ځلمی: ( درېږي ) ځکه چې سبق ویل هغوی ته ګټه نه لري.

ښوونکی: ( د زده کوونکو په لور یو قدم وړاندې راځي ) نه ځلمیه، ځواب دې سم نه دی. تعلیم یافته ښځې لږ تر لږه خپل کورني کارونه ښه ترسره کولی او خپل ماشومان ښه روزلی شي.

یو تن: نو بیا ښځې ولې سبق نه وایي؟

ځلمی ځکه چې شرم دی.

ښوونکی: ځواب دې بیا هم سم نه دی. شرم خو داوي چې د هغوی لیکل او لوستل نه وي زده. د علم زده کړه په هر نر او ښځه باندې فرض دی. هغوي هم حق لري چې زده کړه وکړي.

ځلمی: معلم صیب، زما مشره خور هم له سبق سره زیاته مینه لري. غواړي له ما څخه لیکل او لوستل زده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوونکی: دا خو ډیره ښه خبره ده، د کلي نورې تورسرې هم غواړي چې سبق ووايي. زه به هغوی ته ډېر ژر یو کورنی ټولګی جوړوم. ستا خور هم کولای شي چې په هغه ټولګي کې ګډون وکړي.

## اوومه صحنه

ځای: د خان حجره

زمان: ورځ

د صحنې پېژندنه:

د سلامت خان په کور کې چې په ښکلو پردو، توشکو او بالښتونو او همدارنګه په سرو قالينو ښايسته شوی دی، ځلمی خپلې خور ته د ښوونکی له خولې د کلي د تورسرو د کورس په باب خبر ورکړي چې د زرمينې د خوښۍ سبب ګرځي.

زرمينه: (په خوښی سره) دا خو دې ډير ښه پيغام راوړ ځلميه، زه به په دې ټولګی کې خامخا ګډون کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلمی: (په اندېښنې سره) خو زرمینې، پلار جان به دې دې کار ته پرې نږدي.

زرمینه: (خپلې ګل بي بي ته) ګل بي بیجانې، ته به مې پلار راضي کړې چې پرې مې ږدي.

مور: نه لورې، زه چې دې پلار پېژنم، هغه هيڅ کار د بل چا په خوښه او غوښتنه نه ترسره کوي.

سلامت: (کورته راننوځي) څه جرګه ګۍ مو جوړه کړې ده وه ښځې؟

مور: د جرګه ګیو پریکړې خو تـه هسې هم نـه منې، ولې پوښـتنه کوې!

سلامت: (په خندا) پر ما مو لکه چې خپل باور لـه لاسـه ورکـړی دی کـه څنګه؟

مور: پرتا باور خو زمونږه اړتیا ده. بله چاره نه لرو. دهرکار له پاره خو ستا اجازې ته اړيو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلامت: چې دا سې ده نو خبره مه اوږدوه. سپينه يې راته ووايه چې څه خبره ده !

مور: د کلي د ماشومانو او لويانو په څنګ کې د کلي تورسرې هم غواړي چې له معلم صيب نه سبق ووايي. په دې خبره ټول کليوال خوشحاله دي.

سلامت: ( په انديښنه او فکر ) ښه، نو خبره دې ځای ته رسيدلې ده. معلم صيب غواړي د کلي تورسرو ته سبق ورکړي؟

مور: وه سړيه، د تورسرو په سبق ويلو کې څه بدي ده؟

سلامت: لکه چې ته هم غواړې چې په دې عمر کې سبق ووايې؟

مور: که وکولی شم زه به هم سبق ووايم خو...

سلامت: خو څه؟ ولې چوپه شوې؟ وايه که نه !

مور: خو اوس مې د زرمينې له پاره درته ويله چې هغه غواړي د کلي دنورو تورسرو سره په سبق کې يو ځای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلامت: (په غوسه) نه د زرمینې مورې، زرمینې ته اجازه نه شته چې سبق ووایي. دا زموږ د دود او دستور پرضد دی.

مور: (په اریانتیا سره) دا چې ماشومان او لویان سبق وایي نو تورسرې یې ولې نه شي ویلای؟

سلامت: (په فکر او غوسه) ما د هیچا تعلیم نه دی منلی. ځلمی خو مې ځکه پرېښود چې له کلیوالو څخه وروسته پاتې نه شي. او پاتې شو د تورسرو تعلیم، سوال نه پیدا کیږي سوال.

زرمینه: پلارجانه، په ژوند کې مې یوازینۍ هیله همدا ده چې سبق ووایم.

سلامت: (په غوسه) زرمینې، دا د کورکار به څوک کوي چې ته سبق ووایې؟

ځلمی: پلارجانه، د کور کار به هم وکړي خو د سبق ویلو اجازه ورته ورکړه.

سلامت: ځلمیه، څو توري دې لا ته دي زده کړي او اوس زماه په خبره کې خبره کوې؟ (په غوسه ) ځئ ورک شئ زما د مخې نه. نور نه غواړم چې په دې خبره له تاسو سره بحث وکړم. ځئ ورک شئ !

(c) ketabton.com: The Digital Library



(زرمینه او ځلمی خپه بلې ښونې ته ځي)

مور: (په اسویلی) ثابته دي کړه چې ته په رښتیا سره د جرګو پریکړې منې. (او له هغه ځایه په اعتراض آمیزه توګه روانیږي)

سلامت: (په غوسه او فکر کې له ځانه سره) دا هرڅه د هغه معلمګي له لاسه را پیښیږي. ګورم به د رسره معلمګیه!

ناظر: (را ننوزي) سلامت خان دې سلامت وي، په کومو فکرونو کې ډوب یې خان صیب؟

سلامت: د معلم صیب کارونو په فکرونو کې ډوب کړی یم. هغه غواړي د کلي تورسرو ته سبق ووایې او دا خبره زما د زرمینې ماغزه خراب کړي ماغزه.

ناظر: خان صیب، دا سې ښکاري چې د علم رڼا ستا کور ته یې مخه کړې او غواړي ستا قسمت بدله کړي. لو مړی زلمی او اوس زرمینه، یاره خان صیب له تانه به یې څه پټوم، که رښتیا ووایم نو زما په زړه کې هم ورځ په ورځ د زده کړې مینه زیاتیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلامت: (په غوسه) ناظره، ملنډې راپورې مه وهه. زه دومره بې غيرته نه يم چې خپلې تورسرې سبق ته پرېږدم. يو چاره يې وښيه چاره چې څه وکړو؟

ناظر: لومړی بايد چې ښوونځی وتړل شي او بيا معلم صيب له کلي نه بهر کړل شي او که نه نو خان صيب هغه ورځ ليرې نه ده چې ستا د کورنۍ د غړو په ګډون ټول کلی ستا پرضد ودرېږي او تا له کلي بهر کړي.

(سلامت خان د ناظر د خبرو په تاييد په فکرونو کې ډوب دی.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اتمه صحنه

ځای: ښوونځی

وخت: ورځ

**د صحنې پېژندنه:**

(ښوونکی په ښوونځي کې کتاب لولي. له ليرې يې خان او ناظر ته پام کېږي چې دده وه خواته په بيړه را روان دي. کله چې هغوي ورته نږدې کېږي نو:

ښوونکی: سلام عليکم خان صيب، تاسې دلته څنګه؟ ناظر صيب به مو راليږلی و، زه به پخپله درغلی وم!

سلامت: معلم صيب، مهم کارونه سلامت خان په خپله سر ته رسوي.

ښوونکی: (په خندا) ډير ښه خان صيب، راځئ (کټ ته اشاره کوي) دلته کينئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناظر: ( مداخله کوي ) معلم صیب، موږ نا ستې ته نه یو راغلي.

ښوونکی: ( سلامت خان ته ) نو بیا امر او خدمت خان صیب؟ !

سلامت: معلمه، ښه غوږ دې ونیسه چې بیا یې درته نه تکراروم. د ماشومانو او لویانو له سبق نه وروسته د کلي د تورسرو سبق ماته د منلو وړ نه دی.

ښوونکی: خان صیب ! درس ورکول خو زما کاراو دنده ده.

سلامت: خو زموږ د کلي تورسرو ته نه، پوه شوې؟ موږ دومره بې غیرته نه یو چې خپلې تورسرې پرېږدو چې له پردو نارینه وو نه سبق ووايي.

ښوونکی: خان صیب، دا خو د کلیوالو پرېکړه ده چې دهغوي تورسرې هم غواړي چې سبق ووايي. زه خو یوازې له هغوی سره مرسته کوم.

سلامت: چې دا خبره ده نو پزې او بستره دې وتړه اوله دې کلي نه ډیر ژر ووځه !

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوونکی: ( په ټینګه پریکړه ) خان صیب، زما سبق ورکولو ته راغلی یم، او د خپلې دندې له ترسره کولو پرته دا کلی نه شم پرېښودی؟ !

ناظر: معلم صیب، دا ستا وروستۍ پریکړه ده؟

ښوونکی: هو ناظره، زه نه غواړم د کلي خلک او په تیره بیا ماشومان بې تعلیمه پاتې شي.

سلامت: (په غوسه ) ښه دی نو که دا ستا وروستۍ پریکړه وي نو د سلامت خان د پریکړې انتظار هم کوه راځه. ناظره !

( ناظر او خان روانیږي )

ناظر: ( د تګ په حال کې ) خان صیب ، اوس څه وکړو؟

سلامت: ناظره،بې له دې چې کلیوال راوغواړو او د کلیوالو پرضد یې راوپاروو ، بله چاره نشته.

ناظر: زه پوه شوم. زه به ټولو کلیوالو ته خبر ورکړم چې سبا جرګې ته راحاضر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نهمه صحنه

ځای: د خان دېره

وخت: ورځ

د صحنې پېژندنه:

(د سپين ږيرو جرګه جوړه ده. ښوونکی او سلامت خان هم حاضر دي. چوپه چوپتيا خپره ده او سپين ږيري يو بل ته ګوري. )

ښوونکی: ګرانو مشرانو ، زما ګناه خو داده چې سبق ورکول خپله دنده بولم. زه د ماشومانو د زده کړې له پاره راغلی يم. د لويانو او تورسرو زده کړه د کليوالو غوښتنه ده او بس.

سلامت: نه، داسې نه ده لکه څنګه چې ته يې وايې. دا زمونږ غيرت دی چې مونږ خپلو تورسرو ته اجازه نه ورکوو چې له پردو نارينه وو نه دې سبق ووايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناظر: او ته يې چې زموږ تورسرې هم سبق ته لمسوې.

ښوونکی: ګورئ، له تعليم سره ضديت همدومره بس دی. خپل کلي او خلک نور له دې نعمت څخه ليرې مه ساتئ. پرېږدئ چې دوی هم د نورو په شان د علم او سواد په رڼا کې خپله ژوند تير کړي.

ناظر: معلم صيب، موږ سر ورکوو خو له خپل ننګ او ناموسه تيريدلای نه شو.

ښوونکی: کليوالو او درنو مشرانو، زه عزت او سرلوړي په تعليم کې وينم.

سلامت: معلمه، زموږ کليوال په خپلو پستو خبرو نور تير ايستلای نه شي. دوی نه غواړي چې تورسري نور له تانه سبق ووايي. ښه به داوي چې خپله پوزی او بستره ټوله کړې، داکلی پرېږدې او خپل کورته لاړ شې.

ښوونکی: زه د کليوالو د پريکړې درناوی کوم. کليوالو ورونو، د تورسرو د زده کړې ټولګی زه ستاسو په غوښتنه پيل کوم. خو زه به ستاسې د خوښې پر ضد هيڅ کار و نه کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلامت: (په غوسه) د جرګې مشرانو، معلم صیب لکه چې په یوه نه پوهیږي. ده ته خپله پریکړه واوروئ چې پوی شي پوی!

نورګل: (په احتیاط سره) خان صیب، خپه کیږه مه، که د چا میندې، خویندې غواړي چې له معلم صیب نه سبق ووایي، ودې وایي، په دې کې څه بدي ده؟.

ناظر: (په اریانتیا) یانې تاسې د خان صیب د خبرو مخالفت کوې؟

سیلانی: نه ناظره، خو مونږ حق لرو د خپلو اولادونو او کورنیو په باب پریکړې وکړو او د هغوی د راتلونکي په اړه فکر وکړو.

ملا: خبره خو روښانه ده خان صیب. زما خو مشوره همدا ده چې راځئ چې کلیوالو ته وخت ورکړو چې پخپله د خپلو کورنیو د زده کړې په باب پریکړې وکړي.

نورګل: زه د ملا صیب د خبرو ملاتړ کوم، خو یوه خبره بله هم زیاتوم...که څه هم معلم صیب ماته ډیر ګران دی خو که د شریعت او زموږ ددود او دستور پرضد یو قدم هم اوچت کړي نو هغه ورځ به یې په دې کلي وروستۍ ورځ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو تن: ډېره ښه خبره ده !

ملا: نورو خبرو ته اړتیا نه ده پاتې. راځئ چې یوه دعا وکړو ، الله آمین !

ټول: آمین !

(سلامت خان او ناظر په ناخوښۍ سره جرګه پرېږدي او خلک په نیوکې سره هغو دواړو ته په ننداره وي )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لسمه صحنه

ځاي: د خان کور

زمان: ورځ

د صحنې پېژندنه:

سلامت خان په خپلو فکرونو کې ډوب دی. ناظر له څو کسانو سره یو ځای راننوځي. سلامت خان د ناظر په موجودګی کې له نومړو کسانو سره خبرې اترې کوي او هغوي ته دنده سپاري. نومړي کسان سلامت خان ته اطمینان ورکوي او له کوره وځي. خان او ناظر یوازې پاتې کیږي.

ناظر: خان صیب، دا کار خو کیږي خو اندیښنه مې دې ته ده چې داکار د معلم صیب په مړینه هم پای ته ورسیږئ !

سلامت: ( په غوسه ) ناظره، سلامت خان د خپلې سلامتۍ له پاره هر کار کولای شي. زه به کلیوالو ته وښیم څوک چې زما خبره ونه مني، انجام به یې همدا وي... راځه چې ځو !

ځو !

( دواړه له کوره وځي. )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يوولسمه صحنه

ځاي: کلی

زمان: ورځ

د صحنې پېژندنه:

دخان کسان پر ښوونځی حمله کوي. ښوونکی چې د بلې ورځې د درس په تیاری بوخت دی، دهغوی مقابله کوي، نوموړي کسان ښوونکی سخت ټپي کوي. سلامت خان او ناظر له لیرې د پیښې ننداره کوي. وروسته نږدې ورځي. ناظر ښوونکی چې پړ مخ پر مځکه پروت دی، په اړخ را اړوي. ناظر بې واره کیږي.

ناظر: (په اندیښنې سره ) خان صیب، لکه چې ښوونکی مړشوی دی.

سلامت: (په زیاتې اندیښنې سره ) اوهو ، داخو ربښتیا هم ډیر ژوبل شوی دی وه ناظره. دا چرته مړ نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناظر: خان صیب، اوس به څه کوو؟ دا خو قتل دی او د قتل سزا خو تا ته معلومه ده ....

سلامت: (نو موړو کسانو ته) خدای مو خوار کړه، دا سړی خو مو وواژه... تاسې ته خو ما نه و ویلی چې مړ یې کړئ!

ناظر: خان صیب، د کلي خلک په بیړه را روان دي.

(څو تنه کلیوال د ښوونځي په لور راځي)

سلامت: ځئ ورک شئ!...ځئ پناه شئ، راځه ناظره چې ځو!

(دواړه ښوونکی په تېپي حالت کې پرېږدي او له هغه ځایه تښتي. کلیوال ښوونکی پیدا کوي سر او لاس یې چې ژوبل شوي دي، په ټوکر ورتړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دولسمه صحنه

ځاي: د خان کور

زمان: ورځ

**د صحنې پېژندنه:**

د کور په انګړ کې د سلامت خان ښځه د انګړ له ځاه نه اوبه راباسي او سلامت خان په بیړه سره کورت راننوزي.

مور: ( د سلامت خان په لیدو سره وارخطا کیږي ) خیریت خو به وي؟

سلامت: خیریت له کومه شو؟ ! ولسوالۍ ته ځم.

مور: په دې مازیګر کې په ولسوالۍ کې څه کار لرې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلامت: غواړم له خپل ملګري ولسوال سره وګورم، د يو ضروري کار دپاره.

ځلمی: (ټوپک راوړي، خپل قلم له څو ورقو سره يوځای په خپل جيب کې ږدي او راولاړېږي) پلارجانه، زه هم درسره ځم.

سلامت: نه ځلميه، ناوخته دی. زه يوازې ځم.

مور: رښتيا هم اوس ناوخته دی، شپه به دربانديې راشي؟ بيا سبا لاړشه.

سلامت: نه ښځې، داسې يوه ستونزه راپيښه شوې چې له تلو نه پرته بله چاره نه شته.

مور: چې داسې ده نو بيا ځلمی درسره بوځه.

سلامت: (په فکر سره) سمه ده. ځه لاړشه او دباندې وګوره چې ناظر آس تيار کړی او که نه!

ځلمی: ښه دی پلارجانه، دادی ورځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور: وه سړیه، زه دې وارخطا کړم. دومره خو ووایه چې څه خبره ده؟

سلامت: څه ووایم؟! د زرمینې له لاسه په لویه لانجه واوختم.

مور: ولې؟ څه پېښه ده؟ اندېښنه مې ولې زیاتوې؟

سلامت: معلم صیب مې په خپلو کسانو سخت ټپي کړی، کلیوال هم ولیدلو.

مور: (په اریانتیا) دادې څه وکړل د ځلمي پلاره؟!

سلامت: چې څوک زما خبره نه مني نو همداسې به کیږي. خیر زه اوس ځم چې خپل ملګری ولسوال خبر کړم چې له لانجې نه مې خلاص کړي. (له لارې نه بیرته راګرځي او زیاتوي) تاسې هم خپل خیال ساتئ! (او له کوره وځي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دیارلسمه صحنه

ځای: د خان د کلا په مخ کې

وخت: ورځ

**د صحنې پیژندنه:**

ناظر او ځلمی دواړه د کور په مخ کې د آس په سمبالولو بوخت دي.

سلامت: (له کلا نه وځي او ناظرته د رانږدې کیدو په حال کې کلیوال وینې چې د دوی په لور راځي، په لوړ غږ) ناظره، آس نږدې راوله چې کلیوال راورسیدل!

ناظر: راځه له خیره، دادی درغلم، دادی...

سلامت: (د خپل زوی سره پرآس سپریږي او د حرکت په حال کې) وه هلکه ناظره،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناظر: صيب...

سلامت: د کور خيال ساته ښه، مونږ ژر بيرته راځو

ناظر: ښه خان صيب،(له ځانه سره) زه خو يې لکه د قربانۍ اوزه قصابانو ته پرېښودم!

(آس تيزيږي او په تيزۍ سره د ناظر له سترګو پناه کيږي. آخوا کليوال په غوسې سره ناظر ته رانږدې کيږي او ناظر له ويرې نه په ډکو سترګو د هغوی هر کلی کوي.)

سيلانی: (رانږدې کيږي او په پلتڼې سره) ناظره، هغه سلامت د کلي ملامت چير ته وتښتيد؟

ناظر: (په ويرې سره) خان صيب تښتيدلی نه دی. هغه ولسوالۍ ته لاړ، ولسوال غوښتی و.

سيلانی: دروغ به نه وايې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناظر: دروا غ نه وايم...

سيلانی: ( خلکو ته مخ رااړوي ) وروڼو ، تر څو پورې به زموږ خلک خپلې فيصلې پخ خپله نه شي کولی !؟

نورګل: سيلانی ماما رښتيا وايي. سلامت خان د کلی سلامتيا ته زيان رسوي، موږ به يې ترڅو ننداره کوو ؟

يو تن: معلم صيب خوارکی ( ښوونکی ته اشاره کوي ) دې حال ته ورسيده ، بايد پوښتنه يې وشي.

ښوونکی: ( په ټيپي حالت ) خو زه نه غواړم چې زما پر سر د کليوالو او خان ترمنځ شخړه رامنځ ته شي.

نورګل: (په اريانتيا ) معلم صيب، سلامت خان ته دې حال ته ورسولې او ته بياهم غواړې چې له هغه سره حساب ونه شي؟ !

ښوونکی: حساب به کوو خو وروري به نه خرابوو.

سيلانی: معلم صيب، له همدې امله خو يې ورسره سپينوو. موږ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سامت خان په خپل سر پرېکړې نور نه شو زغملی.

نورګل: داسې يوه پرېکړه کوو چې ټول کليوال به يې خامخا عملي کوي.

سيلانی: نو راځئ چې د سلامت خان تر راتلو پورې همدلته انتظار وکو.

ناظر: داسې ښکاري چې کليوال د سلامت خان پرضد پرېکړه کوي. نور نو کليوال زمونږ په خبرو نه غولېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څوارلسمه صحنه

**ځای:** د سلامت خان د کلا په مخ کې

**وخت:** ورځ

**د صحنې پيژندنه:**

د کلا په مخ کې ليرې، ټول کليوال د ښوونکی په شمول د ونو تر سيورو لاندې ناست او د سلامت خان د بيرته راتلو انتظار باسي چې د سلامت خان آس يوازې بيرته کورته راګرځي.

سيلانی: (په اريانتيا) اوهو، آس يې راغی او د سلامت خان درک نشته. معلم صيب چې دا څنګه چل دی!

يو تن: خان به له ډاره تښتيدلای وي.

ښوونکی: (د خلکو د اريانتيا په حال کې) ناظره! ودريږه!

ښوونکی: (ليک خلاصوي او لولي يې) ناظره، دا ليک ځلمي ليکلی دی. هغه او سلامت خان دواړه د کلي د لويديځ په ځنګله کې په يو ه پيښه کې ژوبل شوی دی. ناوخته ده او شپه هم راتلونکې ده. ته يې ډير ژر غوښتی يې چې له آس او يو څو تنو کليوالو سره ځان ورورسوې او هغوی د ځنګلي ځناورو څخه وژغورې.

(ناظر روانيږي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځمه لسمه صحنه

## ځای: د خان حجره

## وخت: نږدې ماښام

### د صحنې پیژندنه:

کلیوال په حجره کې چوپ ناست دي او سلامت خان د حجرې په بر اړخ کې پر بالښت ډډه اچولې او ټپي پروت دی. ښه يې کلک تړل شوی دی )

ناظر: (خان ته په ګیلاس کې شیدې او مملايي ورکوي) سلامت خان دې سلامت وي، په دې شیدو کې مې درته مملايي اچولې ده قربان دې شم. دا به و ځښئ چې دردونه دې هم خدای ورک کړي او دا وجود دې لږ نرم شي.

سلامت: ناظره، اندیښنه مه کوه، زه ښه یم.

ناظر: سلامت خان دې سلامت وي. څښتن تعالي فضل وکه چې سلامت خان يې سلامت وساته !

سلامت: ناظره، رښتیا چې د مرګ دخولې بچ شولو.

## فلش بیک

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپاړلسمه صحنه

ځای: د کلي په ځنګل کې

وخت: ورځ

**د صحنې پېژندنه:**

سلامت خان او دهغه ځوی ځلمی د آس پر سر د ولسوالۍ پر لور روان دي چې د آس بښه په دښته کې د مځکې په يوه خوړه کې ننوزي او آس د سلامت خان او ځلمي سره يوځای پر مځکه غورځيږي. سلامت خان سخت ټپي کيږي او پر آس د سپريدو توان ورته نه پاتې کيږي، خو ځلمی جوړ دی.

سلامت: (په نالښت) زويه،

ځلمی: هو پلاره،

سلامت: ځلميه زويه، شپه راروانه ده... او له بلې خوا د ځنګلي ځناورانو ويره ده. ته داسې وکه چې لاړه شه کورته او ناظر خبر کړه چې کسان راولي او ما له دې ځي نه کورته بوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلمی: نه پلاره، زه تا ځنګه یوازې پرېږدم !(یو څه یې په فکر کې ګرځي) هو په یاد مې شو ( قلم او کاغذ له جیبه راباسي او پرې لیکل کوي. )

سلامت: (پوښتنه کوي) دا څه کوې ته زویه؟

ځلمی: پلار جانه، ښوونکی راته ویلی و چې آس یو ډیر هوښیار حیوان دی او خپل کور په آسانی سره موندلی شي.

سلامت: دا مو‌ږ ته څه ګټه رسولی شي؟

ځلمی: اوس به یې وګورې چې څه ګټه رسوي. ( یو پیغام لیکي، د آس په قبضه کې یې تړي او آس رخصتوي) چو ! ( او آس په منډه کیږي )

# د فلش بیک پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اووه لسمه صحنه

ځای: د خان حجره

وخت: ورځ

سلامت: خدای تعالی را سره ځلمی د نجات د پرښتې په توګه لیږلی و. که هغه نه وای نو ما به څه کړي وای ! ځلمی چیرته دی؟

ځلمی: زه دلته یم پلاره.... السلام علیکم...

سلامت: والیکم سلام... (کلیوالو ته) وروڼو ، که نن زما زوی له ما سره مرسته نه وای کړی نو خپل ژوند به مې له لاسه ورکړی و.

یوتن: دا خو د ځلمی د لیک او لوست برکت و چې ستاسې ژوند یې وژغوره.

سلامت: زوی جانه، نن مې زړه غواړي هر هغه څه درکړم چې ته ورته هیله لرې. نن زما د ازمايښت ورځ ده زويه. ووايه چې ته څه غواړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلمی: (له خپله ځایه پاڅېږي او د خلکو له منځ نه ښوونکی له لاسه نیسي، د خپل پلار څنګ ته یې را کش کوي او بیا ) پلارجانه، د انعام اصلي حقدار خو معلم صیب دی. له همدوی نه مې هرڅه زده کړي.

سلامت: مطلب دې څه دی زویه؟

ځلمی: مطلب مې دادی چې ماته لوی انعام به داوي چې ښوونکی ته اجازه ورکړئ چې ټولو کلیوالو ته سبق ورکړي.

(د غونډې ګډونوال ټول غلي ناست دي. سلامت خان هم خبرې نه کوي )

ناظر: سلامت خان دې سلامت وي قربان دې شم، معلم صیب د لیک په لوستلو مور دې ته وهڅولو چې تاسې بیرته کورته راولو.

ځلمی: پلارجانه، که له خپلې وعدې بیرته راګرځې نو خیر دی، زه نه غواړم چې تا دې ته مجبور کړم.

سلامت: ( کښېني او د خپل زوی پر سر لاس تیروي ) زوی جانه، زما ستا نه همدا هیله وه، زه درسره ژمنه کوم چې زه به د کلي وران ښوونځی بیا جوړوم...او خپلې لورته د سبق ویلو اجازه هم ورکړم. ( په موسکا په داسې حال کې چې له ستړګو څخه یې اوښکې هم ځاځي، خپل زوی او کلیوالو ته په منلو سترګو ګوري. بیا ښوونکی ته په سترګو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره ګوري ) چې زما په دغه کړو د کلي خلک ټول خوشحاله شي. (خلک خوشحاله کيږي. ) **معلم صيب**، ما وبخښه، زه په خپله غلطۍ پوهيدلی يم.

ښوونکی: خان صيب، هغه مشران چې د خپل کلي د روښانه راتلونکي سره مينه ولري، د خپل کلی د نجونو او هلکانو زده کړه له پامه نه شي غورځولای.

( سلامت خان له ښوونکی سره لاس ورکوي او کليوال خوښيږي )

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library





# د لیکوال پېژندنه

پوهندوی ډاکټر عبدالقیوم کریم په ۱۳۳۸ لمریز کال کې د ننګرهار ولایت د جلال آباد ښار د سره رود ولسوالۍ د چهارباغ صفا په کلي کې زیږیدلی دی. لومړني زده کړې یې د جلال آباد ښار د میاعمر (رح) په لومړني ښوونځي کې په لومړي درجه پای ته رسولې او بیا د ننګرهار عالي لیسې ته ولاړ. د ننګرهار له لیسې څخه یې هم په ۱۳۵۸ لمریز کال کې په لومړی درجه د فراغت سند ترلاسه کړ او د عالي تحصیلاتو له پاره د کانکور د ازموینې په پایله کې پخوانی شوروي اتحاد هیواد ته معرفي شو، خو له انجنیری سره یې د خپلې مینې له مخې ځان د کابل پوهنتون انجنیري پوهنځي ته تبدیل کړ. د نوموړي پوهنځي د سیول انجنیری له ډیپارټمنټ څخه هم په ۱۳۶۳ لمریز کال کې په لومړی درجه فارغ شو او د پوهنې وزارت د ساختماني چارو په ریاست کې د ښوونځیو او ورکتونونو د ودانیو د ډیزاینر په توګه د یوې لنډې مودې خدمت څخه وروسته کله چې انجنیري پوهنځی تر څو کلونو وقفې وروسته بیا فعاله شوه، د نوموړي پوهنځي د سیول انجنیری په ډیپارټمنټ کې د استاد په توګه یې د هیواد د ځوانانو د تدریس چارې په غاړه واخیستې چې ترننه پورې دوام لري. په دې ترڅ کې یې په ۱۹۹۲ میلادي کال کې د هندوستان هیواد د اوترا پردیش ایالت د رورکي له پوهنتون څخه د هایدرولوژی په برخه کې خپله ماسټري او په ۲۰۱۴ میلادي کال کې یې د هسپانیې هیواد د پلازمینې مادرید د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیرچم د نړیوال پوهنتون څخه د چاپیریال ساتنې د انجنیری په برخه کې خپله ډاکتري په بري سره بشپړه کړه.

د ژورنالیزم او ادبیاتو په برخه کې یې د ۱۳۷۱ څخه تر ننه پورې یې زده کړې په لاندې ورکشاپونو او کورسونو کې ترسره کړې دي:

۱. په راډیو افغانستان کې د ژورنالیزم، ژباړې او راډیویي پروډکشن بیلابیل روزنیز کورسونه

۲. د بي بي سي له خوا د ډرامه لیکنې شپږ میاشتینۍ روزنیز پروګرام، پیښور

۳. د ماشومانو د پاره لیکنه، د ملګرو ملتونو د کډوالو د اداري له جوړ شوی روزنیز ورکشاپ، پیښور

۴. بیلابیل د اسلام آباد (پاکستان) د ژورنالیزم له ملي انسټیټیوټ څخه د ژورنالیزم د اساساتو څلورمیاشتینی کورس

۵. رپوټ لیکل، د ملګرو ملتونو د کډوالو د اداري له جوړ شوی روزنیز شپږ میاشتینۍ ورکشاپ

۶. د بي بي سي له خوا د معلوماتو د راغونډولو او مرکو د تخنیکونو او رپوټ ورکولو په باب جوړ شوی روزنیز ورکشاپ، پیښور – ننګرهار

۷. د چاپي مطبوعاتو د چلولو په باب د یونیسکو له خوا لنډ ورکشاپ، پیښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸. د افغانستان د پاره د مطبوعاتي ملاتړ اداري له خوا د بهرنيو متخصصينو له خوا د راډيويي او ويډيويي خپرونو او فلمونو د ډايرکټ کولو بيلا بيل روزنيز ورکشاپونه

۹. په لندن کې د رويټر د اداري له خوا د (له شخړو نه وروسته رپوټ ورکول) يو مياشتينۍ روزنيز ورکشاپ

۱۰. په نيپال کې د يونيسف اداري له خوا د ژورناليزم او رپوټ ورکولو روزنيز ورکشاپ

۱۱. په جاپان، سويس، جرمني، پاکستان او تايلينډ کې د فلمونو د ډايرکټ کولو، سکريپټ ليکلو او فلم جوړولو په بيلابيل روزنيز ورکشاپونه، کنفرانسونه او بحثونه.

کاري تجربه:

الف- د ژورناليزم، سينما او ادبياتو په ډګر کې

۱. په ۲۰۱۰-۲۰۱۱ کلونو کې د ام اس اچ له خوا د عامې روغتيا وزارت د رهبرۍ د مفاهمې د سلاکار په توګه

۲. په ۲۰۰۸ کال کې د شمشاد ټلويزيون د خپرونو د رييس په توګه

۲. د ۲۰۰۲ کال د اپريل له لومړۍ نيټې څخه د ۲۰۱۲ کال د مارچ ترپايه پورې، د افغانستان د مطبوعاتي ملاتړ او هوارۍ د اداري

(c) ketabton.com: The Digital Library



( Media Support Partnership Afghanistan – MSPA)
د مشر د مرستيال په توګه.

۳. د ۲۰۰۴ کال د نومبر له پيل څخه د ۲۰۰۲ کال د مارچ تر پايه پورې، د ملګرو ملتونو د سازمان د وګړو د صندوق د ادارې د عامه اړيکو او مطبوعاتي چارو د مسوول په توګه

۴. د ۲۰۰۲ کال د مارچ د مياشتې له لومړۍ نيټې څخه د ۲۰۰۴ کال د سپتمبر د مياشتې ترپايه پورې په افغانستان کې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د سازمان يا UNHCR د ادارې د ډلې ييزو رسنيو او مطبوعاتي چارو د عمومي مرستيال په توګه.

۵. د ۱۹۹۷ کال د سپتمبر د لومړۍ نيټې څخه د۲۰۰۲ کال د فبرورۍ د مياشتې ترپايه پورې ، په پاکستان کې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د سازمان يا UNHCR د ادارې د ويانـد او عامه اړيکو د مسوول په توګه.

۶. د ۱۹۹۴ کال د جون د مياشتې له پيل څخه د ۱۹۹۷ کال د اګست ترپايه پورې، په پېښور کې د افغانانو له پاره د بي، بي، سي د تعليمي خپرونو د ((نوی کور، نوی ژوند )) د تعليمي ډرامو د ليکوال او لنډيزونو ( Synopsis) د جوړولو د سمبالوونکی په توګه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷. د ۱۳۶۱-۱۳۷۱ لمریز کاله پورې د راډیو افغانستان د بهرنیو خپرونو د اردو ژبې، دري او پښتو خپرونو او هندي فلمونو د ژباړن، پروډیوسر، ډایرکټر او ویاند په توګه.

ب- د انجنیری او تدریس په ډګر کې:

۱. د ۱۳۶۳-۱۳۶۵ لمریز کاله پورې د پوهنې وزارت د تعمیراتو ریاست د ډیزاین انجنیر په توګه

۲. د ۱۳۶۷ کال څخه تر ننه پورې د کابل پوهنتون د انجنیري پوهنځي د سیول انجنیری د ډیپارټمنت د استاد په توګه

۳. د ۱۹۹۲-۱۹۹۷ میلادي پورې په پېښور کې د آی آر سي، دعوت او جهاد، او سید جمال الدین افغان د پوهنتونونو د انجنیري پوهنځي د استاد په توګه

۴. په ۱۳۹۳ لمریز کال کې د یوناما د چاپیریال ساتنې د پروژې د سلاکار په توګه

۵. په ۱۳۹۲ کال کې د افغانستان د تخنیکي او مسلکي زده کړو د انستیتیوټ د پرمختیا او پلان جوړونې د سلاکار، وروسته د نوموړي انستیتیوټ د علمي مرستیال او وروسته بیا د هغه د رییس په توګه.

د عبدالقیوم کریم خپاره شوي آثار:

(c) ketabton.com: The Digital Library




۱. د لیکوال عزت، د منشي پریم چند د غوره کیسو پښتو ژباړه، د افغانستان د لیکوالو ټولنه، **۱۳۲۹** لمریز کال، کابل (د نوموړې ټولنې د کال د غوره ژباړې د حمید ماشوخیل د جایزې ګټونکی)

۲. ادهورا کهیل (نیمګړې لوبه)، د افغان لیکوالو د لنډو کیسو اردو ژباړه، **۱۹۹۵** میلادي کال، پېښور

۳. فضايي هندسه، د ښوونځيو د يوولسمو ټولګيو د پاره د فضايي هندسې د پوښتنو حل، **۱۹۹۲**، پېښور

۴. د مثلثاتي لوګاريتم د جدولونو لارښود، د ښوونځيو د يوولسمو ټولګيو د پاره، **۱۹۹۲**، پېښور

۵. د ماشومانو د پاره **۲۴** انځوريزې ښوونيزې کيسې، ليکنه او ژباړه، ، **۱۹۹۸** – ۲۰۰۲، کابل او پېښور

۶. د فلم او ويډيو ييزو خپرونو بنسټونه، ۱۳۸۷، کابل

۷. د ماشومانو د پاره ليکنه، پښتو ژباړه، **۲۰۰۲** ميلادي کال، پېښور

۸. د لاندې فلمونو پښتو او دري سکرپټونه:

- د نظر کلی، په انګريزي ژبه لنډ مستند فلم، ليکنه، **۲۰۰۰** ميلادي کال، کويټه

- اولاد، لنډ ټلويزيوني فلم، ليکنه او جوړونه، **۲۰۰۵** ميلادي کال، کابل

- مجبور، په دري ژبه لنډ ټلويزيوني فلم، ليکنه او جوړونه، **۲۰۰۲** ميلادي کال، کابل

- ارمال، دري لنډ ټلويزيوني ننداره، ليکنه او جوړونه، **۲۰۰۲** ميلادي کال، کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library




- پریکړه، لنډ پښتو ټلويزيوني فلم، ليکنه او جوړونه، ۲۰۰۷ ميلادي کال، کابل (د NHK د نړيوالې جايزې ګټونکې طرحې پر بنسټ)
- سلګۍ، لنډ ټلويزيوني فلم، ليکنه او ډايرکټ، ۲۰۰۸ ميلادي کال، کابل
- ښکلا ، په شپاړلسو برخو کې پښتو ټلويزيوني سريال، ليکنه، ۲۰۰۸ ميلادي کال، شمشاد ټلويزيون، کابل
- د يو شمير روزنيز لنډ ټلويزيوني هنري فلمونو او ټلويزيوني سپاټونو ليکنه او ډايرکټ، ۲۰۰۲ –۲۰۱۲ ميلادي کال، کابل

په ۱۳۸۲ کال کې د پښتو ژبې تکړه ليکوال او ژباړن ډاکټر فريد احمد بزګر راته وويل چې غواړي د (( د منشي پريم چند غوره کيسې )) تر سرليک لاندې زما د هندوستان د نوميالي ليکوال منشي پريم چند د څو لنډو کيسو ژباړه چې په ۱۳۲۹ لمريز کال کې د افغانستان د ليکوالو د ټولنې له خوا خپره شوې وه، په خپلو مالي امکاناتو د دويم ځل له پاره چاپ کړي، نو لازمه مې وګڼله چې د نوموړي کتاب پر مطالبو خپل ژوندليک هم په خپله ژبه له يو څه تفصيل سره وړاندې کړم. نوموړی کتاب بيا چاپ نشو خو هغه مقدمه غواړم ددې کتاب په پای کې له درنو لوستونکو سره شريکه کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library






د جاپان په پلازمینه توکیو کې د NHK په تالار کې د پرېکړه فلم تر ننداړې وړاندې د فلـــم پـــه بـــاب د معلومـــاتو د وړانـــدې کولـــو پـــه حـــال کـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library






د NHK په تالار کې د پريکړه فلم د جايزې تر اعلان وړاندې (له ښي خوا څخه) د تونس، تايليند، اندونيزيا او هندوستان د فاينلستانو سره د د فستيوال د سياليو د پايلو د اعلان د انتظار په حال کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





د NHK په تالار کې د اولاد او نورو فلمونو تر ننداري وروسته پر فلم باندې د بحث په دوران کې

(c) ketabton.com: The Digital Library






د NHK په تالار کې د اولاد او نورو فلمونو تر ننداريې وروسته پر فلم باندې د بحث په دوران کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





د NHK په تالار کې د ۲۰۰۷ کال د فستيوال د جايزې د ويشلو د ننداري په حال کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





د NHK په تالار کې د اولاد او نورو فلمونو تر ننداري وروسته پر فلم باندي د بحث په دوران کي

(c) ketabton.com: The Digital Library






د NHK د ۲۰۰۶ کال په فستیوال کې د ۲۰۰۵ کال د ښه سکرپټ د لیکول د سیالیو د جایزې د ترلاسه کولو وروسته د وینا په حال کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملــي تحریــک د هېــواد پــالو او فرهنګپــالو شخصیتونو ښاغلیو (انجنیر نظرمحمد منګل) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته يې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکو څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Decision

By: Abd-ul-Qayoom Karim

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۵۳

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**